مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۱/۱۱/۳۰

# د لوړې سونامي

## اتمه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

### دریځلویښتمه برخه

تر ټولو دردونکې خبره خو دا ده چې په افغانستان کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوترخوالی نه یوازې دا چې نه کمېږي، بلکي لازور اخلي، نوي بڼې يې رامنځته کېږي او تر بېلابېلو نومونو لاندې د ماشومانو لومړني حقونه تر پښو لاندې کېږي، ماشومان او کوچنیان د لویانو له داسي ظالمان عملونو سره مخ کېږي چې چا یې لا سوچ هم نه وي کړی او ماشومان او کوچنیان د ظلم په داسي دایرو کې را ګیر کېږي چې پر هغوی باندې د روان ظلم تاثیرات د هغوی پر ټول ژوند باندې منفي اغیز پرېباسي، لویان د خپلو ظلمونو او تېر وتنو د پټولو له پاره ډېر ځلې هرڅه تقدیر ته سپاري او موضوع بیا د خلکو هېره وي.

په اوسني وخت کې له ماشومانو او کوچنیانوسره د تاوتریخوالي یوه غوره او اصلي بېلګه جګړه ده. په تازه رپوټونو کې ویل شوي دي چې، په افغانستان کې د جګړیز اړودوړ په ترڅ کې ګڼشير ماشومان او کوچنیان یا ژوبل شوي دي او یا وژل شوي دي.

د امریکا غږ په یوه نوي رپوټ کې راغلي دي چې د تېرو شپږو میاشتو په لړ کې د بېلابېلو مسلحو ګروپونو د جګړو په ترڅ کې څلور سوه شپېته ماشومان او کوچنیان وژل شوي دي، د ملګرو ملتونو اړوندو څانګو په خپلو رپوټونو کې داسي ویلي دي:

«د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف) چې د ملګرو ملتونو په حواله وایي چې په تېرو شپږو میاشتو کې په افغانستان کې څه باندې ۴۶۰ماشومان په جګړو کې وژل شویدي.

یونیسف په افغانستان کې په ناچاودل شویو موادو او په ځینو ځایونو کې د جکړې له کبله د ماشومانو د مرګ ژوبلې په دوام اندیښنه ښودلې.

د ملګرو ملتونو دغې اداري د نومبر په ۴(لړم۱۳) په یوې اعلامیې کې ویلي چې تیره ورځ د کندز په ولایت کې د ناچاودل شویو موادو په چاودنې کې د یوې کورنۍ نهه غړي ووژل شول چې څلور یې نجونې او دوه یې هلکان وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د یونیسف په اعلامیې کې ویل شوي چې پدې چاودنې کې درې ماشومان ټپي شوي هم دي. دې اداري ویلي دا ماشومان هغه وخت ووژل شول چې ناچاودل شوی مواد یې چې د جګړې د وخت نه هلته پاتې و، کور ته راوړ او وچاودید.

په اعلامیې کې ویل شوي، " ماشومان په ځانګړي توګه د جګړې د وخت څخه د پاتې ناچاودل شویو موادو د خطر سره مخ دي ځکه هغوي دغه مواد نشي پېژندلی."

ملګرو ملتونو په عاجله توګه د جګړې د وخت نه د پاتې شویو چاودیدونکو موادو د د پاکولو په اړتیا ټینګار کړی او ویلي یې دي چې افغان ماشومان لا هم ددې موادو قرباني کیږي.

یونسیف زیاته کړې چې د ملګرو ملتونو په تازه راپور کې راغلي چې په افغانستان کې څه باندې ۴۶۰ ماشومان په جګړو کې وژل شویدي. دا هغه شمیرې دي چې دې سازمان په افغانستان کې ثبت کړیدي.

په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو اداري د ټولو خواوو نه غوښتي چې د ماشومانو د خوندیتوب کوښښ وکړي او د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې مخه دې ونیسي.

ملګرو ملتونو همدارنګه په سمدستي توګه د ماشومانو سره د زور زیاتي د بندیدو غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې په افغانستان کې چارواکي باید د ماشومانو خوندیتوب او مصؤنیت ته په ټولو چارو کې لومړیتوب ورکړي.»

موږ تر اوسه نه یو توانېدلي چې د ماشوم او کوچني لومړني حقونه وپېژنو او هغو ته یې ورکړو. په افغانستان کې د قانون جوړولو استازي، د ماشومانو او کوچنیانو د لومړنیو حقونو او د هغوی د ساتنې او پالنې پر هغو قوانینو خبر نه دي چې په نړیواله کچه منل شوي او د نړۍ په ډېره سلنه هېوادونو کې تطبيقېږي.

دا له پخوا دود شوې ستونزه ده چې په افغنستان کې کوچنیان د لارو او واټونو پر څنډو باندې د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو په موخه کار کوي او په دنو یې ګورو چې د هغوی د ماشومتوب او کوچنیوالي زرینه دوره له تعلیمي چاپېریال لرې، په شاقه کارونو تېرېږي.

دوچولې پښتو په یوه رپوټ کې د افغان کوچنیانو د بد وضعیت په باب خواشیني څرګنده کړې ده او ویلي یې دي:

«د اټکلونو پر اساس په کابل کې د ۱۰۰ زرو او ۲۰۰ زرو په منځ کې ماشومان هم مدثر ته ورته برخلیک لري. دغه ماشومانو پر چوکونو او یا د رستورانتونو مخې ته خیر ټولوي، درانه بارونه اوچتوي او یا په کثافاتو کې لټه کوي. له دغه ماشومانو څخه یې زیاتره په اوسط ډول په څلور کلنۍ کې له دې برخلیک سره مخ کیږي.»

د «وې زېږوه، وزن یې پر مځکه باندې ورځي او روزي یې خدای وررسوي» د پالیسۍ له مخې ورځ تربلې د ماشومانو او کوچنیانو شمېر ډېرېږي، خو د خلکو دې ته پام نه وي چې د وږو او بېسوادانو لښکر مخ په ډېرېدو دی. په همدې نږدې ورځو کې د ملګرو ملتونو په

یوه رپوټ کې ویل شوي دي چې څومره افغان حامله ښځې او ماشومان له خوارځواکۍ کړېږي: «له هرو ۴ حامله افغان ښځو او دوو ماشومانو څخه یو یې خوارځواکۍ ځپلي.»

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هغې غونډې ته چې افغانستان ته ځانګړې شوې وه، په افغانستان کې د لوږې سونامي په باب داسې وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«... دبورا لیونز گفت که سازمان ملل پیش بینی می کند ۶۰ درصد از جمعیت ۳۸ میلیونی افغانستان با بحران گرسنگی روبرو باشند، وضعیتی که احتمالا با رسیدن سرما بدتر خواهد شد.»

هغې په افغانستان کې د بشري ناورین رامنځته کېدو د مخنیوي له پاره ووېل چې افغانان د هغې ګناه پور پرې کوي چې خپله یې کړې نه ده:

«او جامعه جهانی را ترغیب کرد راه هایی برای ارائه حمایت مالی از مردم افغانستان پیدا کنند؛ مردمی که "احساس می کنند به حال خود رها و فراموش شده اند و در واقع گرفتار مکافاتی شده اند که خود مسبب آن نیستند" و افزود تنها گذاشتن آنها "اشتباهی تاریخی خواهد بود."»

بیا هم د لوږې سونامي د څپو په اثر په افغنستان کې د بشري ناورین د رامننځته کېدو د څو پېښو بېلګې:

تاند:

«د بېوزلو نجونو د خرڅلاو دوام، ۲ هراتې نجونې هم وپلورل شوې.»

هشت صبح:

«دو خانواده در هرات از ناداری فرزندان‌شان را به فروش گذاشته‌اند.»

بي بي سي پښتو:

«له ۱۸ میلیونه ډېر افغانانان هره ورځ کافي خوړو ته لاسرسی نه لري»

دې ټولو خبرونو او رپوټونو ته په کتو سره، له ورایه ښکاري چې د افغانستان د ډېرې سلنې خلکو ژوند له خطر سره مخ دی، په تېره د ماشومانو او کوچنیانو. د دې خطرونو لاملونه که وپلټل شي، لومړنۍ ګوتې مېندو پلرونو او کورنیو ته وراوړدېږي. لویان پرته له دې چې د نوزېږو د راتلونکي ژوند د پروګرامونو په باب فکر وکړي یا پلان ورته ولري، لګیا وې زېږي یې، اوس دا دی حالت تر دې بریده رارسېدلی دی چې له کنټروله وتلی او نور به هم مخ په خرابېدو روان وي.

همدا اوس هم که د هېواد په کچه ټولې مېندې او ټول پلرونه که د خپلو راتلونکو نسلونو په باب د یوه منظم پلان په فکر کې شي، نو په راتلونکو وختونو کې به د ورته ستونزو او لوږو مخیوی شوی وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ